بسم الله الرحمن الرحيم

د بحښونکی ډیر مهربان خدای په نامه

**قَالَ اللهُ تَعَالی:**

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ
وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾

سوره الأحزاب: **۳۳**

**پاک الله فرمايي:**

**"بيشکه الله تعالی غواړي چې اي د (رسول) اهلبيتو(عليهم السلام) له تا سو نه دې هر قسمه پليتي لرې وساتي او تاسو داسې پاک او صاف کړي لکه څنګه چې د پاکۍ حق دے."**

# مُصْحَف
# د حدیثونو له نظره

قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ:

«إني تاركٌ فيكُمُ الثَقلين: كتاب الله، وعترتي أهلَ بيتي، ما إن تمسكتُم بهما لن تضلوا أبداً وأنَّهُما لَن يَفترقا حتّى يردا عَليَّ الحوضَ».

رسول الله ﷺ وفرمايل:

زۀ تاسو تـه دوه درانـه او ارزښـتناک څیزونـه پرېـږدم: يـو د خدا ے کتاب (قران) او بل زما اهلبیت، که چیرې پـه دې دوو مـو منګولې ولګولې نو هيڅ کله به له ما وروسته بې لارې نه شئ، او دا دوه بـه يو له بله جدا کيږي نـه تـر دې چې د حوض (کوثر) پـه غـاړه مـا تـه راورسيږي.

(صحيح مسلم، ۷ ټوک، ۱۲۲ مخ، سنن دارمـي، ۲ ټوک، ۴۳۲ مخ، مسند احمد، ۳ ټوک ، ۱۴، ۱۷، ۲۲او ۵۹ مخونه، ۴ ټوک، ۳۶۶ او ۳۷۱ مخونه، ۵ ټوک ، ۱۸۲ مخ، مستدرک حـاکم، ۳ ټوک ، ۱۰۹، ۱۴۸ او ۵۳۳ مخونه، او داسې نور کتابونه....)

# مُصْحَف د حدیثونو له نظره

ليکوال:
علامه سيد مرتضیٰ عسکري

مترجم:
سرفراز علي مهدي

د اهل بیتو نړیواله ټولنه

نام کتاب: علی مائدة الکتاب والسنة جلد۷ ؛ المصحف فی الروایات و الآثار

نویسنده: سید مرتضیٰ عسکري

تهیه کننده: مجمع جهانی اهل بیت علیهم السلام - اداره ترجمه

مترجم: سرفراز علي مهدي

زبان ترجمه: پشتو

**د کتاب نوم:**

مصحف د حدیثونو له نظره

لیکوال: علامه سید مرتضیٰ عسکري

تیاروونکې: د اهل بیتو د نړیوالې ټولنې د ژباړې څانګه

ژباړه او کمپوز: سرفراز علي ایم اے عربي

تصحیح: انور شاهین خانخېل

وروستی کتنه: ډاکټر عبدالرحیم درانی

صفحه بندي: فاطمه ګلزار

چاپ نېټه: ۱٤۳۷هـ ق (بمطابق ۲۰۱٦م)

دچاپ وار: وړومبی

شمېر: ۲۰۰۰

چاپ خانه: اسراء

خپروونکې: د اهلبیتو نړیواله ټولنه

ISBN: ۹۷۸-۹٦٤-۵۲۹-۰

www.ahl-ul-bayt.org

info@ahl-ul-bayt

# لړلیک


**مُصْحَف، په روایتونو او حدیثونو کښې ◄ ۱۱**

۱- په عربي لغت کښې د مُصْحَف معنا ◄ ۱۱

۲- مُصْحَف د صحابهؤ په اصطلاح کښې ◄ ۱۳

۳- مُصْحَف د اهلبېتو عليهم السلام امامانو په روايتونو کښې ◄ ۱۲

۴- «مصحف» د خلفاؤ د مذهب په حدیثونوکښې ◄ ۱۸

د خالد بن معدان مصحف ◄ ۱۸

۵- جلد شویو لیکنو ته د «مُصْحَف» ویلو مشهورېدنه ◄ ۲۰

۲- «مُصْحَف» د تېرو اُمتونو په اصطلاح کښې او مخکېنیو دیني کتابونو ته «مُصْحَف» نوم ورکول ◄ ۲۱

۷- د رسول الله صلى الله عليه وآله د لور بي بي فاطمه عليها السلام مصحف ◄ ۲۳

۸- د صحابهؤ مصحفونه ◄ ۲۵

۹- له قرآنه د پېغمبراکرم صلى الله عليه وآله د حديثونو جدا کول ◄ ۲۷

او په قران کښې، هغه ملعونه شوې ونه ◄ ۲۸

# مُصْحَف، په روايتونو او حديثونو کښې

## ۱- په عربي لغت کښې د مُصْحَف معنا

په عربي ژبه کښې هغه څيز ته «صحيفه» وائي چې څه پکښې ليکلې شي او د هغه جمع، صحائف، صُحُف او صُحْف ده.[۱] او «مُصْحَف» او «مِصْحَف» ته «الجامع بين الدّفّتين» يعنې د دوو جلدونو تر مينځ مجموعې ته «مُصْحَف» او «مِصْحَف» ويلې شي.

د «دفّتين» په تشريح کښې داسې ويلې شوي دي چې: الدّفّة: څنګ او پهلو او د هر څه مخ ته وائي. د ډهول دوو

۱. مراجعه وکړئ: مفردات، راغب؛ لسان العرب، ابن منظور؛ المحکم، ابن سيده؛ الصحاح، جوهری؛ قاموس المحيط، فيروز آبادی، ماده صحف.

طرفو ته چې پوستکې وربانديې ترلې شوې وي او ورسره ډُول وهلې شي هغه ته هم، «دفّتَا الطّبل» یعنی د ډهول دوه مخونه.

هم له دې امله د کتاب دوو اړخونو ته یعني د کتاب وړومبي مخ او وروستي مخ ته هم «دفَّتا الْمُصْحَف» یعنی د کتاب هغه دوه مخونه چې نورې پاڼې یې په مینځ کښې راټولې وي (ګَتَه)، او کله هم وویل شي چې: «حُفِظَ ما بین الدَّفَّتین»[۱] نو مراد یې دا ده چې کتاب د دوو جلدونو او ګتو په مینځ کښې محفوظ دے.

نو په دې بنیاد، «مُصْحَف» د داسې کتاب نوم دے چې جلد او ګته وربانديې وي. ځکه، که چېرې «صحیفه» هماغه وې چې په کښې لیکل کیږي او د هغه جمع صُحُف، «مُصْحَف» وي، نو «صُحُف» هغه کتاب ته وائي چې د دوو جلدونو تر مینځ وي، نو «مُصْحَف» هم د عربو په لغت کښې داسې

۱. مراجعه وکړئ: تاج العروس زبیدی؛ المعجم الوسیط، د دفف ماده.

کتاب ته وائي چې جلد ورباندې لګيدلے وي که هغه قران وي او که بل کتاب.

## ۲- مُصْحَف د صحابهٔ په اصطلاح کښې

د «مُصْحَف» ټکے په روایتونو کښې د دریم خلیفه ترزمانې پورې «راجمع شوے قرآن» په معنې ؤ یعني په خپلې لغوي معنې کښې استعمالیدهٔ.

بخاری له یو صحابي «زید بن ثابت» څخه روایت نقل کړے دے چې خلاصه یې دا ده: زید وائي: «خلیفه ابوبکر ما ته حکم راکړ چې قران راټول کړم ، وائي: پوره قران مې راټول کړ او ابو بکر ته ورغلم او هغه مې ورکړ تر هغه وخته پورې دا راټول شوے قران له هغهٔ سره ؤ چې هغه په حق ورسید له هغه وروسته عمر سره ؤ او له عمر نه وروسته د هغهٔ له لور حفصې سره پاتے شو.»

بخاري له دې وروسته له اَنَس څخه روایت راوړې چې خلاصه یې داسې ده: «کله چې عثمان د قران د راټولو اراده وکړه نو زهٔ یې حفصې ته ولېږلم چې «صُحُف» او لیکلے

شوے کاغذ ما ته راوړه چې «مصاحف» له هغهٔ ولیکو او بیا درکوو... د حدیث تر آخر پورې.»[۱]

نو روښانه ده چې د «صُحُف» او «مَصاحف» ټکي په دې دوو روایتونو کښې په خپلې لغوي معنیٰ کښې استعمال شوي دي یعني لیکلي شوي کاغذونه او جلد شوي کتابونه.

د بخاري له روایتونو زیات روښانه هغه روایتونه دي چې ابو داؤد سجستانی [سیستانی] په: «په مصْحَف کښې د قران راټولول» نومې باب کښې په خپل کتاب «المصاحف» کښې په لاندینې ډول ذکر کړي دي:

الف- له محمدبن سیرین روایت نقلوي چې وائي:

کله چې پېغمبراکرمﷺ رحلت وکړ نو علي﵇، قسم وخوړهٔ چې د جُمعي له نمانځه نه بغېر به په بل کار پسې به لاړ نهٔ شم تر څو مې چې قران په «مُصْحَف» کښې راټول کړے نهٔ وي.

---

۱. صحیح بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب جمع القرآن، ټوک۳، مخ ۱۵۰.

ب.له ابی‌العالیه روایت نقلوي چې:

هغوي د ابو بکر د خلافت په وخت کښې قران په «مُصْحَف» کښې راټول کړے ؤ.

ج.له امام حسین‌علیه‌السلام نه روایت کوي چې:

عمربن خطاب د قران د راغونډولو حکم وکړ او هغه وړومبنے کس ؤ چې قران يې په «مُصْحَف» کښې راغونډ کړ.[۱]

له دغو درې دلیلونو سره څکه استدلال کوو چې:

د روایت په زمانې کښې د «مُصْحَف» معنا عام وه هم پکې قران شریف شاملېدۀ او هم نور کتابونه ، لکه څنګه چې تېر شول،او په هغو کښې په دې ترتیب راغلي دي:

الف.چې قران په «مُصْحَف» کښې راغونډ کړي.

۱. کتاب المصاحف، عبدالله بن ابی‌داود سجستاني وفات [۳۱۲ هجری]، تصحیح کوونکے ډاکټر اثر جفري، وړومبے چاپ، قاهره [۱۳۵۵ هجری]. الف) روایتونه په ۱۰ مخکښې او ب) روروایتونه په ۹، مخکښې راغلي دي.

ب. قرآن يې په «مُصْحَف» کښې راټول کړ.

ج. د قران د راغونډولو حکم يې ورکړ او هغه وړومبنے کس ؤ چې قران يې په «مُصْحَف» کښې راټول کړ.

خو که «مُصْحَف» د هغو په نزد هم دا قران وي نو د روايتونو معنا به په دا ډول کېده:

الف. چې قرآن په قرآن کښې راټول کړي.

ب. قرآن يې په قرآن کښې راټول کړ.

ج. هغه وړومبنے کس ؤ چې قران يې په قران کښې راغونډ کړ.

(مترجم: او معلومه ده چې دا معنې سمې نه دي.)

## ۳- مُصْحَف د اهلبيتو عليهم السلام امامانو په روايتونو کښې

«مصحف» د اهلبيتو عليهم السلام امامانو په روايتونو کښې هماغه په لغوي معنا دے چې د سنيانو په مکتب کښې بيان شول. کليني په اصول کافي، باب: «قراءة القرآن في المصحف» کښې روايت کوي چې:

١. امام جعفر صادقؑ وفرمايل:

«مَنْ قَرَءَ القُرانَ فِی المُصحفِ مَتَّعَ بِبَصَرِه، وَ خَفَّفَ عَن والِدَيْهِ، و إن کانا کافِرَيْن».

هر څوک چې قران پاک په «مُصْحَف» کښې تلاوت وکړي د هغه سترګې به يې لذت او خوند واخلي او د هغه مور او پلار به هم که څه هم کافر ولې نه وي- (له ګناهونو) سپک شي.

٢. او هم دا رنګ يې فرمايلي دي:

«قَراءَةُ القُرآنِ فِی المُصحَف تُخَفِّفُ العَذابَ عَن الوالِدَيْنِ، وَ لَوْ کانا کافِرَيْن».

په مصحف کښې د قران تلاوت سره د مور او پلار عذاب کميږي که څه هم هغه دواړه کافران وي-.[١]

---

١. اصول کافی، ټوک٢، مخ٢١٣، د تهران چاپ، ١٣٨٨ هجری کال.

نو دي بیان ته په پام سره، «مُصْحَف» د صحابه ؤ او تابعینو او د خلیفه ګانو د مذهب راویانو او د اهلبېتو علیهم السلام د مذهب راویانو په نزد د: « جلد شوي کتاب» په معنا استعمال شوے دے. یعنی: «مُصْحَف» د اسلام په وړومبیو وختونوکښې په خبرو اترو کښې او حدیثونو کښې په هماغه لغوي معنې کښې استعمال شوےدے، او له هغه وخت نه پس ورو ورو د دې قران، لپاره د «مُصْحَف» نوم مشهور شوے دے.

## ۴- «مصحف» د خلفاؤ د مذهب په حدیثونو کښې

د سنیانو په مکتب کښې له قران نه علاوه ځینې نورو کتابونو ته هم، «مصحف» ویل شوي دي لکه ځینې دا دي:

د خالد بن معدان مصحف

ابن ابی داؤد [وفات، ۳۱۶ هجری کال]، ابن عساکر [وفات، ۵۷۱ هجری کال]، مزّی [وفات، ۷۲۴ هجري کال ] او ابن حجر [وفات، ۸۵۲ هجري کال] د خالد بن معدان د ژوند د حالاتو په بیانولو کښې وائي:

د خالدبن معدان علم د هغه په «مُصْحَف» کښې ؤ چې هغه مصحف یوه تنې (بټن) لرله او د تنې ځای.[۱]

د خالد بن معدان پېژنګلي

خالد بن معدان د شام له غټو عالمانو او په اسلام کښې له تابعینو څخه دی (یعنې صحابي نهٔ دی) چې اویا (۷۰) صحابه یې لیدلي دي.

ابن اثیر [وفات، ۲۳۰ هجري کال] په «الکلاعي» ماده کښې[۲] د هغهٔ په ژوند لیک کښې راغلي دي او وائي: خالد په ۱۰۳ یا ۱۰۴ یا ۱۰۸ هجری کال کښې له دنیا تلی دی.

---

۱. المصاحف، مخونه ۱۳۴ او ۱۳۵؛ تاریخ دمشق، خطی (لاس سره لیکلې)، د دمشق د انځوري او تصویري نسخو کتابتون «مجمع علمی اسلامي» شماره ۵، ۲، ۲۵۹ أ؛ تهذیب الکمال، خطي، د دمشق د انځوري او تصویري نسخو کتابتون، ټوک ۲، مخ ۱۷۰؛ تهذیب التهذیب، ټوک ۳، مخونه ۱۱۸ او ۱۱۹.

۲. اللباب فی تهذیب الأنساب، ټوک ۳، مخونه ۲۲ او ۲۳، د دې سرچینې هم په اتمې شمارې راغلي دي.

## ۵- جلد شويو ليکنو ته د «مُصْحَف» ويلو مشهورېدنه

د «مُصْحَف» د لفظ د هغه څه په معنا استعمال چې څه پکې ليکل شوي وي او جلد شوې وي يعني مجلد کتاب د خلفاؤ د مکتب د عالمانو او څېړونکو په نزد(په دې معنې کښې) مشهور دے او تل همداسې استعمال شوے دے چې د نمونې په توګه دوه موردونو ته اشاره کوو:

الف-ابن ابی داؤد سجستاني چې د دريمې پيړۍ له لوړو شخصيتونو څخه دے په خپل کتاب المصاحف کښې لکه څنګه چې تېر شول داسې ذکر کوي چې:

۱- ابوبکر د رسولﷺ له رحلته وروسته، قرآن په «مصاحف» کښې راغونډ کړ.

۲- علی بن ابی طالبؑ قرآن په مصحف کښې راټول کړ.

۳- عمر بن خطاب ، قرآن په مصحف کښې راټول کړ.

ب- د ننني زمانې عالمانو هم لکه ناصرالدين الأسد په خپل کتاب مصادر الشعر الجاهلي کښې وائي: هغوي به د «مصحف» لفظ د راټول شوي کتاب لپاره استعمالوۀ او

مراد یې هر یو کتاب ؤ یعني یوازې قران یې مراد نه ؤ... د حدیث تر آخره پورې.

هغه بیا د خالد بن معدان «مصحف» قصه هم د ابن ابيداؤد سجستاني له مصاحف کتابه راوړې ده.[۱]

## ۲- «مُصْحَف» د تېرو اُمتونو په اصطلاح کښې او مخکېنیو دیني کتابونو ته «مُصْحَف» نوم ورکول

ابن سعد په خپل طبقات کتاب کښې په خپل سند سره د عتیبه غلام سهل له قوله روایت کوي چې ویلي یې دي: هغه یو نصراني(عیسائي) ؤ او له «مریس» قبیلې څخه ؤ، دا سې یتیم ؤ چې د پلار او ترهٔ په لمن کښې لوے شو او د انجیل تلاوت به یې کوهٔ وائي: ما له خپل ترهٔ نه یو «مصحف» اخېستے ؤ او هغه مې لوستهٔ چې یوې نامعلومې پاڼې ته ورسېدم او غیر معمولي لیکلو سره مخامخ شوم لاس مې

۱. مصادر الشعر الجاهلی، مخ۱۳۹، پنځم چاپ، د سجستاني له مصاحفه په نقل سره، مخونه ۱۳۴ او ۱۳۵.

پرې راکښۀ ومې ليدل چې پاڼې يې يو بل سره نښتې (ښخې) دي.

هغه پاڼې مې خلاصې کړې ومې ليدل چې د حضرت محمدﷺ صفتونه پکې په دا ډول بيان شوي وو چې:
((هغه نه لوړ دے او نۀ لنډ، مخ يې سپين دے او ږيره يې شته هغه ډيره بخښنه کوي او صدقه نۀ اخلي هغه په خرۀ او اوښ سپريږي او ګډې بزې په خپل لاس سره لشي او پشمينه يا خمتا جامې اغوندي، او څوک هم چې داسې وکړي هغه به له کبر اوغاورتيا لرې وي او هغه دا کارونه کوي هغه د اسماعيل له زوزاته دے نوم يې احمد دے.))
سهل وائي: کله چې دې ځاے ته راورسيدم نو ترۀ مې راغے او کله يې چې هغه پاڼې خلاصې وليدې نو زۀ يې څو کوتکه ووهلم او وې ويل چې تۀ له دې پاڼو سره څه کار لرې؟ ما ورته وويل: په دې پاڼو کښې د احمد پېغمبرﷺ ذکر دے.
هغۀ وويل چې: هغه لا نۀ دے راغلے[1]

---

۱. طبقات ابن سعد، ټوک۱، مخ۳۲۳، د بېروت چاپ.

نو په دې بنیاد د «مصحف» لفظ د هغو لیکنو لپاره استعمال شو چې جلد شوې وي، او هغه څه چې د ابن ابي داؤد په مصاحف کښې روایت شوے رښتیا او سم دي چې ورومبي خلیفه قرآن «مصحف» نوموله نو دا نوم د دریم خلیفه د خلافت زمانې پورې مشهور نۀ ؤ. او دا خبره، له وړاندینیو دوو روایتونو چې له صحیح بخاري مو راوړي وو، څرګندیږي او دا چې قران ته د مصحف نوم ورکولو د دریم خلیفه له زمانې وروسته شهرت پېدا کړے او حتی د هغۀ په زمانه کښې هم یوازې قران ته مصحف نوم مختص نۀ ؤ، بلکې په دواړو مکتبونو یعني د خلفاؤ او اهلبېتو د مکتب نور کتابونه هم مصحف نومېدل چې یو پکې د رسول اللهﷺ د لور بي بي فاطمهعليها‌السلام مصحف دے.

## ۷- د رسول اللهﷺ د لور بي بي فاطمهعليها‌السلام مصحف

په روایتونو کښې راغلي دي چې: «د رسول اللهﷺ د لور بي بي فاطمهعليها‌السلام د محصف په نوم یوکتاب ؤ چې د غیبو خبرونه پکې لیکلي شوي وو.» په بصائر الدرجات کتاب کښې له یو لړ زیاتو سندونو سره د امام جعفرصادقعليه‌السلام له

قوله راغلي دي چې هغه حضرت د هغو کسانو په څواب کښې چې د هغه حضرت خدمت ته راغلي وو او د هغه څه په حقله يې پوښتنه کوله چې رسول اللهﷺ، عليعليه السلام ته او هغۀ حسنعليه السلام ته پريښې دي، نو امام د هغوي په څواب کښې وفرمايل:

رسول اللهﷺ مونږ ته داسې څيزونه پريښي دي چې ټول انسانان هغو ته ضرورت لري حتیٰ د نوک (ناخن) د خراش تاوان هم پکښې شته، او بي بي فاطميعليها السلام داسې مصحف پريښے دے چې قران نۀ دے... د حديث ترآخره پورې.[1]

نوپه دې بنياد لکه چې تېر شول د پيغمبراکرمﷺ ګرانې لور يو کتاب لرۀ چې مصحف نومېدۀ بالکل هماغه ډول لکه څنګه چې د خالدبن معدان کتاب نوم هم، مصحف ؤ او اهلبيتو امامانوعليهم السلام چې دا خبر ورکړے دے نو روښانه کړې يې ده چې هغه قران نۀ دے، او د قران ايتونه په هغه

---

۱. بصائرالدرجات، مخ۱۵۲. تفصيلي روايت په معالم‌المدرستين کتاب، ټوک۲، مخ۳۲۲ کښې راغلے دے.

کښې نیشته بلکې د هغو پېښو خبرونه او پېش ګویانې دي چې په راتلونکې کښې به تر سره کیږي.

خو په ډېر افسوس سره وایم چې د خلفاؤ د مکتب ځینو کسانو دا تور او تهمت لګولے دے او وائي: د اهلبېتوعلیهم‌السلام له منونکو سره د فاطمېعلیهاالسلام محصف دے چې هغوي ورته بل قران وائي، حال دا چې د اهلبېتوعلیهم‌السلام د مکتب پېروکارو او منونکو هیڅ کله د خالد محصف په حقله په سنیانو داسې تور نه دے لګولے.

## ۸- د صحابهٔ مصحفونه

د پېغمبراکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله ډیرو صحابه مصحفونه لرل چې د قران پاک د ځینو ایتونو تفسیرونه پکښې وو چې هغه یې له پېغمبراکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله اوریدلي وو، هغه به یې سره د قران د ایتونو لیکل. نو په دې بنیاد د صحابهٔ په زمانه کښې د هغوي د مصاحفو معنا دا ده «د ځینو ایتونو په تفسیر کښې د پېغمبراکرمصلی‌الله‌علیه‌وآله حدیثونو سره لیکلې شوے قران.» لکه څرنګه چې په روائي تفسیرونو کښې راغلي دي د خلفاؤ په مکتب کښې د سیوطي دُرّ المنثور تفسیر، او د

اهلبېتو﷩ پېروکارو په نزد د بحراني تفسیر برهان، همداسي دي.

د صحابهؤ د مصاحفو څو نمونې:

الف- د ام المؤمنین بي بي عائشې مصحف

د بي بي عایشې له خدمت ګار ابي‌یونس نه روایت کیږي چې وائي: عائشې ما ته وفرمایل: چې ما لره یو مصحف ولیکه او راته یې وویل چې هر کله هم دې ایت ته ورسېږې: «حافظوا علی الصلوات و الصلوة الوسطی» نو ما خبره کړه. [وائي:] کله چې دې ایت ته ورسېدم نو هغه مې خبره کړه او هغې داسې ولیکل: «حافظوا علی الصلوات و الصلوة الوسطی ـ و صلاة العصر ـ و قوموا للّه قانتین» عائشې وویل: دا مو له پېغمبراکرم ﷺ اوریدلي وو.

ب- د ام المؤمنین حفصې ، مصحف

د بي بي حفصې له خدمت ګار ابو رافع نه روایت کیږي چې وې ویل:

حفصې له ما وغوښتل چې یو مصحف ولیکم او وې ویل: کله هم چې دې ایت ته ورسیږې: «حافِظُوا عَلَى الصَّلواتِ...». نو بیا ما ته ووایه چې لکه څرنګه مو زده کړې هماغه شان درته ولیکم. [وائي:] کله چې دې ایت ته ورسېدم نو وې ویل چې ولیکه: «حافِظُوا عَلَى الصَّلواتِ الوُسطى ـ و صلاة العصر ـ»

د تېر شوي مطلب په اساس د اسلام په وړومبیو کښې، مصحف داسې کتابونو ته ویلې شول چې نن سبا مونږ ورته تفسیرونه وایو چې پکې د قرآن ترجمه او د ایتونو په تفسیر کښې د پیغمبراکرمﷺ حدیثونه موجود دي.

له دې نه پس له پیغمبراکرمﷺ نه وروسته خلفاؤ د ځینې مسائلو په خاطر دا اراده وکړه چې قران د پیغمبراکرمﷺ له حدیثونو جدا کړي چې تفصیل یې بیانوو:

## ۹- له قرآنه د پیغمبراکرمﷺ د حدیثونو جدا کول

د قران شریف ځیني ایتونه د قرېشو د هغو مشرانو د غندلو په حقله نازل شوي وو چې کوم له پیغمبراکرمﷺ سره

جنګیدل، او ځینې نور د قریشو د صحابه ؤ د قبیلو په مذمت او ملامت کښې نازل شوي وو لکه د سورۂ اسراء ۶۰ ایت چې بني امیه ؤ یا ځینو صحابه ؤ (چې په ظاهر یې ځانونه مسلمانان ښودل) په حقله فرمائي:

﴿وَٱلشَّجَرَةَ ٱلْمَلْعُونَةَ فِى ٱلْقُرْءَانِ﴾

او په قران کښې، هغه ملعونه شوې ونه

یا د سورۂ تحریم څلورم او پینځم دوه ایتونه چې د ام المؤمنین عائشې او ام المؤمنین حفصې په حقله فرمائي:

﴿إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ﴾؛

"(اے دواړو بیبیانو) که تاسو د الله تعالیٰ په وړاندې توبه وکړه چې ستاسو زړونه منحرف او کاږۀ شوي دي، [نو (توبه کول) ستاسو په ګټه دي] او که چرې د [پیغمبر] په خلاف

تاسو دواړو د يو بل مرسته وکړه نو ياد ساتئ چې خدا ے تعالیٰ په خپله د (پېغمبر) مرستندويه دے او جبرائيل او د مومنانوصالح او له هغو وروسته فرښتې هم د هغهٔ مددګارې دي."

بيا ورپسې فرمائي:

﴿عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبۡدِلَهُۥٓ أَزۡوَٰجًا خَيۡرًا مِّنكُنَّ مُسۡلِمَٰتٍ مُّؤۡمِنَٰتٍ قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٍ سَٰٓئِحَٰتٍ ثَيِّبَٰتٍ وَأَبۡكَارًا ﴾؛

دا کېدې شي چې که پېغمبر تاسو ته طلاق درکړي نو الله به ورته ستاسو په بدل کښې له تاسو نه ډيرې ښې ښځې او بيبيانې ورپه برخه کړي داسې بيبيانې چې مسلمانې وي مومنې وي د هغه فرمان منوونکې، توبه کوونکې، عبادت کوونکې او هجرت کوونکې، کونډې او پيغلې.

د دې ايتونو په اپوته نور داسې ايتونه شته چې د نورو کسانو په مدح او ستائېنه کښې نازل شوي دي. لکه د

تطهیر ایت په سورۀ احزاب [۳۳] کښې چې د پېغمبر اکرمﷺ او علی او فاطمه او حسن او حسین په حقله نازل شوے دے چې فرمائي:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجْسَ أَهْلَ ٱلْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾؛[۱]

"په تحقیق سره خدا ے غواړي رجس (د هر ډول پلیتي او ګناه) له تاسو اهلبېتو لرې وساتي او تاسو پاک او پاکیزه وګرځوي."

د دې ایتونو او همداسې نورو ایتونو د نازلېدو وخت او موقع چې د پېغمبراکرمﷺ په حدیث کښې بیان شوي دي د درې واړو خلفاؤ له هدف سره مخالف ؤ نو په دې خاطر یې دغه شعار او (نعره) چې: «حسبنا کتاب الله» ولګوله او له قرانه یې د پېغمبراکرمﷺ «حدیثونه» په دې طریقه جدا او بیل کړل چې: وړومبې ابوبکر حکم ورکړ چې د پېغمبراکرمﷺ له «حدیثونو» جدا، یو قران ولیکي او دا

---

۱. سوره احزاب: ۳۳.

کار د دویم خلیفه د خلافت په وخت کښې خاتمې ته ورسېد نو پس له دې کاره یې د پېغمبراکرمﷺ د «حدیثونو» نقلولو او خپرولو د منعې اعلان وکړ، د دویم خلیفه له وفات نه پس چې ځینو اصحابو او تابعینو بني امیه ؤ او د دریم خلیفه له خپلوانو سره نښتې او دوښمنۍ رامنځته شوې نو هغو دښمنانو د رسول اللهﷺ هغه حدیثونه نقلول شروع کړل چې د خلافت سرمشریز ه غونډه یې محکوموله. په تېره بیا د هغو مخالفانو چې د رسول اللهﷺ مصاحف یې په لاس کښې لرل او هغهٔ سره یې د دریم خلیفه په خلاف استدلال کوۀ کله چې دریم خلیفه دا ولیدل نو اعلان یې وکړ او دا شعار او نعره یې ولګوله چې: «قرآن د پېغمبراکرمﷺ له «حدیثونو» جُدا کړئ.»

له دې پس یې د پېغمبراکرمﷺ د «حدیثونو» یو بیل کتاب له ام‌المؤمنین حفصې راوخښت او ترې نه یې څو نور کتابونه ولیکل او هغه یې د مسلمانانو لرې لرې ښارونو ته ولېږل او نور حدیثي کتابونه او مصاحف چې صحابه ؤ د قران د ایتونو نص د پېغمبراکرمﷺ له

«حدیثونو» تفسیر سره چې له پېغمبراکرمﷺ اوریدلي وو او هغه یې لیکلي وو دریم خلیفه هغه ټول راغونډ کړل او اور یې ورته ورته کړو. نو نورو مسلمانانو هم له دې پېښې وروسته، خپل مصحفونه له دې مصحفه (چې د حفصې له مصحفه یې لیکلي وو) چې د رسول اللهﷺ بیان پکې موجود نه ؤ، ولیکل (د نن سبا په اصطلاح کښې، فوټو کاپي یې کړل).

نو له دې نه پس د «مُصْحَف» لفظ یوازې د قران پاک نوم وګرځېد چې پکې د پېغمبراکرمﷺ «حدیثونه» نه وو او د وخت تېریدل هم د دې سبب شول چې راتلونکې زمانې پوهې نهٔ شي چې د اصحابو په مصحفونو کښې د قران نص او د پېغمبراکرمﷺ تفسیري «حدیثونه» موجود وو.

کله چې عباسي خلیفه منصور په ۱۴۳ هجري قمري کال کښې مسلمان عالمان، د علم لیکلو ته وهڅول او قران پېژاندو کسانو او پوهانو د قران ایتونه سره د تفسیرهماغه شان لکه چې د پېغمبراکرمﷺ په زمانه کښې وو لیکلو ته ملا وتړله نو له هغه وروسته هغه مصحف چې پکې د قران د

ايتونو په تفسير كښې حديثونه بيان شول، تفسير ونوميدۀ.

﴿والحمدُ لله رَبِّ العالَمِينْ﴾